مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خوشحال آصفي
۲۰۱۹/۰۷/۰۱

# د قطر ورا او د سولې ډولۍ

ښکاري،چې د افغانستان د سولې خبرې نوې او حساس پړاو ته ور ننه شوې دي او د سولې مثلث(امريکا،طالبان او افغان حکومت) غواړي يو بل ته د سولې په راوستو کې اوږه ورکړي.د قطر په پلازمېنه دوحه کې د امريکا او طالب استازو ترمنځ د سولې خبرو اووم پړاو پيل،د سولې په چارو کې د دولت وزارت بست رامنځته کېدل او د سولې عالي شورا خوشبيني يې واضح مثالونه دي،چې د سولې د راتلو زېرى راکوي.د قطر غونده په داسې حال کې پيل شوى،چې خلک،شنونکي او حکومت ورته خوشبين ښکاري او هر يو خپل نظرونه وړاندې کوي.

اتلس کاله کېږي،چې افغانان د سولې ډولۍ ته سترګې په لاره دي،خو له دې کيسې د ګلمرجان واده جوړ شوى.

تمه ده،چې په دې پړاو کې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د وتلو پر مهال وېش او دې تضمين باندې،چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو په ځانګړي توګه امريکا پر ضد نه کارول کېږي،خبرې وشي.

ارګ هم د پخوا په پرتله دا ځل خوشبين ښکاري او بين الافغاني خبرو د احتمالي پيل لپاره يې عبدالسلام رحيمي چې وړاندې تر دې له طالبانو سره د حکومت د مرکچي پلاوي مشر ټاکل شوى و؛ د سولې په چارو کې د دولت د وزير په توګه وګمارلو او دا ښيي،چې حکومت هم ورو،ورو د امريکا او طالبانو مذاکراتو ته ور ننه کېږي.

د سولې عالي شورا هم د تل په څېر تمه لري،چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د خبرو اووم پړاو به بين الافغاني خبرو ته لاره هواره کړي.

دا ځل امريکاييان هم په خپل عمل کې جدي ښکاري او دا ټکی کابل ته د امريکا د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو د سفر پر مهال د هغه په خبرو کې مطرح شو،چې سولې ته بايد لومړيتوب ورکړل شي؛ ترڅنګ يې په کابل کې استوګن امريکايي سفير جان بس هم د ده خبره تکرار کړه، تازه مورد يې بيا د يوه لوړپوړي امريکايي چارواکي خبره ده چې ويلي يې دي دواړه لوري د هيلو ربښتيني احساس لري.

د تېرو ځلونو برعکس دا ځل په حکومت کې د ننه هم په دې اړه د نظر يووالى احساسېږي او د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ رسمي خبرو پيلېدو ته هيله من دي.

خو د هيله منديو ترڅنګ؛ له دې خبرو د نهيليو آواز هم راځي، د ناټو لوړپوړى ملکي استازى نيکولاس کې وايي له سپټمبر نه وړاندې يوې هوکړې ته د رسېدلو لپاره وخت ډېر کم دى.

خلک هم دا انديښنه لري،چې ممکن طالبانو ته ډېر امتيازات ومنل شي او د راتلو لاره به ورته داسې هواره شي،چې ښايي اوسنى وضعيت د اويايمې لسيزې سناريو تکرار ته چمتو کړي،ځکه په افغانستان کې د ننه د جګړې د بندېدو تضمين لا تر اوسه مطرح شوى ندى او نه هم پر وسله والو طالبانو دا باور ډېر آسان دى،چې سولې ته خپله ژمنتيا ثابته کړي.

د سولې په برخه کې د حکومت پر کړنو هم تل نيوکه او د شک په سترګه ورته کتل کېږي،خو د سولې عالي شورا ترڅنګ د سولې په چارو کې د دولت وزارت بست تشکيل او پاکستان ته د ولسمشر اشرف غني سفر د حکومت ښه نيت ښيي؛دا چې وضعيت بل ډول دى، هغه نو د افغان حکومت له وسعې وتلې خبره ده.سره له ټولو ناخوالو او انديښنو بيا هم په ټوله کې وروستي کوښښونه دا زېرى له ځانه سره لري،چې امريکا،د سيمې هېوادونه او نړيواله ټولنه دې پايلې ته رسېدلې؛څو په افغانستان کې ثبات رامنځته او بين الافغاني خبرې پيل شي.

شنونکي په دې باور دي،چې د طالب بنديانو د خوشې کولو نيت، مسکو او اسلام آباد ته د افغان سياسيونو او ولسمشر غني سفرونه او د سولې په برخه کې د امريکا د ځانګړي استازي زلمي خليلزاد سفرونه؛ ټول تر ډېره بريده د سولې د بهير د لا چټکوالي سره تړاو لري او هيله ده،چې اووم پړاو خبرو کې به يې پايله جوته شي.

د سولې په برخه کې سره له ټولو لوړو او ژورو؛ خلک تمه لري،چې د قطر ورا وکولاى شي د سولې ډولۍ افغانستان ته راولېږي،د بهرنيو لاسوهنې په افغانستان کې بندې شي او په جګړه کې ښکيل افغان لوري د سولې پر دسترخوان سره کښېني.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ